# طالب ته

ته د دین په روایاتو وطن نشي جوړولي
ستا په جیب کي پوچ چهار مغزغلیمانو اچولي
سردی خلاص که سپک سره زمانه دانترنیت دي
بی دپوهي او تحنیک پرمختګ نشي کیدلي
اول ځا ن په دي پوه که چي مذهب علم نه دي
روبنا او طریقت دی ټول پوها نو دا ویلي
آبادي او عمراني د کارپوه په لاسو کیږي
هربیزو ترکانۍ نه دي هریو څوک اوس پوهید لي
ناپوهي دستا ښکاره دي چي عالم ته ملحد وایې
تا مذهب ټیکه کړي په ابزار دی اړولي
په نړۍ کي کوم هیواد دملا په لاس جوړ شوی
یوه بیلګه خو را که تا ته ما غوږ نیولي
طا لب جا نه ستا رژیم بی اساس اوبی پایه دي
ما ملا نه دي لید لي چي سیا ست وی چلولي
څو چي کار اهل کا ر ته ونشي سپارلي
د ملا طا لب یاغیا ن هر کار نشي مخکي وړلي
ټول نړۍ پرتا سو خاندي ولي تاسی نه پوهیږي ؟
د مکتب دروازي مو د انجنو په مخ تړلي
ته د خدای اود قران د اوامرو یي پرضد
ځکه علم په هر چا زمونږ خدای را فرض کړي
ته پخپله د غنم دی ټول ناولي داني ټول که
ستا څه کاردخلک په کاردي چي لارنشي ښودلي

په رینتیا چي تا سي تول دفرهنګ دښمنان یاست
ددیوبند په مدرسو کي فرهنګ نه مو دي لوستلي
طالب جانه ستا نظام نا مشروع اوبی قانون دي
د نړی تول سیاستوالو دا رژیم ښه پیژندلي
چیری ته طالب جانه او هم چیري سیاست
د زوال وخت مو نژدی دي افغانان را پاڅیدلي
پخپل کړو سره اسلام مو له یوسره بدنام کړل
مسلمان افغان اولس ځما د «مل» ویل منلي

*** پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»

جرمنی 2022-06-11

**پاڅون**

اولسونو تول را پاڅي د طالب رژیم نسکور کړي
دا بربري اوګمراهان زر په زور تول په ګور کړي
دا د تیکي د دوري مخ تورنو د یو بندانو
پرګنې تول راوبښ کړي خلک ددوی پرمخ په شورکړي
مجال مه ورکوي دوی ته چي لا نور هم وراني کړي
ښځې او نر ته آزادی بیا د خپل د متې په زور کړي
د ښونځی او مکتبونو دروازی انجنو ته خلاص کړي
تولی میندی او انجنی زر آزاد له بند د کور کړي
د افغان دری رنګه بیرق بیا له سره په رپان کړي
د طالب دا سپین کفن د طالب په وینو سور کړي
له وطنه د وحشت او د دار تغر را تول کړي
خوشحالی او شادمانی داولس په مینځ کي خپور کړي

دا طالب اودا ملا بیرته ولیږي پنجاب ته
چي د خپل ماتی علل د پنجاب حاکم له ورور کړي
دا د دین تېکه داران د داعشو ټول یاران
ددی ټولو اوبا شا نومخ د خلکو په مخ تور کړي
وخت تیریږي افغانانو خپل صفونه را نژدي کړي
خپله توره را ښکاره کړي اجتناب له پیغورکړي
(مل) سره د شهیدانو په قبرونو کي ګل کیږدي
ځا نځاني نه لاس پرسرشي احترام دپلار اومورکړي
*** پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»
جرمنی 2022-06-07